NDI
NATIONAL
DEMOCRATIC
INSTITUTE
FOR INTERNATIONAL AFFAIRS

## لمړنی بیانیه
## د افغانستان د 2014 کال د ولسمشریزو او ولایتی شوراګانو د ټاکنو لپاره د ملي ډموکراټیک انستیټیوټ ټاکنیز ماموریت

## کابل او واشنګټن ډي سي
## د۲۰۱۴ کال د اپریل ۷ مه

دا بیانیه د ۲۰۱۴ کال د ټاکنو په اړه د ملي ډیموکراټیک انستیټیوټ د ټاکنیز ماموریت لخوا وړاندې کیږي. د ټاکنو په ورځ ملي ډیموکراټیک انستیټیوټ ۱۰۱ افغان کتونکو په ۲۶ ولایتونو کې د رأی اچوونی له ۳۲۷مرکزونو څخه لیدنه وکړه. د دې کتونکو زیات شمیر یې د ملي ډیموکراټیک انستیټیوټ په پروګرامونو کې د روزونکو په توګه کار کړی دی، چې د ټاکنو مخکې یې د نوماندو او سیاسی ګوندونو ۴۶۰۰۰ استازي یې د رأی اچوونې د بهیر لپاره چمتو کړل. د دې کتونکو زیات شمېر په افغانستان کې د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کلنو په ټاکنو کې د ملي ډیموکراټیک انستیټیوټ له ټاکنو څخه د کتنې د ماموریت نه بیلیدونکې برخه بلل کېده او د ولایتی شورا ګانو، د ځوان رهبرانو او ښځو له ټولنو سره یی په تیره لسیزه کې په ټول افغانستان کې کار کړی دی. د تیرو ټاکنو په څیر امنیتي محدودیتونو په افغانستان کې ټولو سیمو ته د نړیوالو او د ملي ډیموکراټیک انستیټیوټ د افغاني کتونکو د استولو مخه ونیوله او یا ځینو ولایتونو ته چې هلته استول شوي هم وو، هغوی ونشو کولای چې د اړوندو محدودیتونو له کبله خپله کتنه (مشاهده) ترسره کړي. دا بیانیه د نوموړو امنیتي محدودیتونو له کبله لمړنی او ابتداي بلل کیږي.[1]

د ملي ډیموکراټیک انستیټیوټ د شننې په پروګرام کې د ټاکنو څخه مخکې پلاوی هم شامليږي کوم چې له ټاکنو څخه دمخه د ۲۰۱۳ کال د ډسمبر په میاشت کې یې د افغانستان څخه لیدنه وکړه. پلاوي د ډسامبر به ۹ یوه بیانیه خپره کړه چې د اصلاحاتو په موخه په کې ۱۶ سپارښتنې شاملې وې ([د ملي ډیموکراټیک انستیټیوټ - افغانستاون د ټاکنو څخه دمخه د شننې د ماموریت بیانیه وګورئ، ۲۰۱۳ کال، ډسامبر)]. په دې پروګرام کې ۱۵ نړیوال اوږدمهاله کتوونکي هم شامل وو چې د ملي (کورنیو) همکارانو سره یې په ګډه کارکاوه، د ټاکنو د لړۍ پرمختګ به یې تحلیل او ارزوه او پړاویز رپوټونه به یې خپرول. اړوند کتونکي د فبرورۍ په ۲۲ مه نېټه هېواد ته راورسېدل او د مارچ په ۲۰ مه نیټه یې په کابل سرینا هوټل باندې له برېد وروسته هیواد پریښود، چې په دې برید کې د ملي ډیموکراټیک انستیټیوټ یو تن کتوونکی (مشاهد) لوییس ماریا ډوارټه چې د پاراګوای له هیواد څخه وو، د اتو نورو کسانو سره ووژل شوو. دا ماموریت لوییس او هغه خلکو ته وقف شوی چې د افغانانو د هیلو او ډموکراټیکو ارمانونو څخه د دفاع په خاطر یې خپل ژوند له لاسه ورکړ.

له ټاکنو څخه دمخه د ملي ډيموکراټيک انسټيټيوټ په پروګرامونو کې د ولايتي شوراګانو د ۱۷۱۵ نوماندانو ته د بلدتيا پروګرام (د ټول شمېر ۶۰ سلنې څخه زيات) او د ولايتي شوراګانو د ۲۹۹ ښځينه نوماندانو څخه د ۲۸۱ تنو ته د ټاکنيزو سياليو په اړه د يو لړ روزنيز پروګرامونو په لاره اچوول شامل دي. ملي ډيموکراټيک انسټيټيوټ همدا شان له ټاکنوڅخه د څارنې له پنځو افغاني ادارو سره هم مرسته وکړه چې د اپريل د ۵ نيټې د ټاکنو لپاره يې په ټول افغانستان کې زرګونه کسان د څارنې لپاره وهڅول.

[1] د هغه امنيتي خنډونو له کبله چې په دې ټاکنو کې رامنځته شول، دا شونې نه وه چې د ټاکنو د کتنې ماموريت په بشپړه توګه د ټاکنو د کتنې د نړيوالو اصولو د اعلاميې (Declaration of Principles for International Election Observation) مطابق په لاره واچوو. سربيره پردې بياهم، د ملي ډيموکراټيک انسټيټيوټ له ټاکنو څخه شننه د پورته اعلاميې له روحيې سره سم په لاره اچول شوې او د معلوماتو راټولول جداً په مسلکي او کره توګه ترسره شوي او موندنې په بې پرې توګه ترلاسه شوي.

## ځغلنده کتنه

د اپريل په ۵ مه نيټه، تقريباً ۷ ميليونه افغانانو د ترهګرو ډلو لخوا د سختو ګواښونو سره سره خپلې رأيې واچولې. رأی اچوونکو خپل ټينګ عزم وښود چې د خپل د هېواد نوې په پښو درېدلې ديموکراټيکه لړۍ پرمخ بيايي او د سياسي قدرت د سوله ايز ليږد څخه ملاتړ کوي. که څه هم د رايې ورکوونې د ګډوډولو او د ټاکنو مخکې پراو ته زيان رسولو لپاره تاوتريخجنې حملې طرحه شوې وې، خو افغان رايه ورکوونکو، ښځينه او نارينه وو د رايې ورکوونې په ډېريو مرکزونو کې اوږده قطارونه جوړ کړل. د تمې خلاف، په ټاکنو کې د خلکو په لوړه کچه ګډون د دې لامل شوو چې د رأيې ورکوونې په ځينې مرکزونو کې رأی پاڼې ختمې شي او په ټول هيواد کې د رأيې ورکوونې ساعتونه وغځېږي ترڅو هغو کسانو ته اجازه ورکړي چې خپلې رايې واچوي کوم چې په قطارونو کې ولاړ پاتې وو. البته د ۲۰۰۹ کال پرتله، د ټاکنو دې ورځې يو څه تاوتريخوالی تجربه کړ، د هېواد په بېلابېلو برخو کې ځينې حملې وشوې او دهغو مرکزونو په ګډون چې تر مخه د نا امنيو له وجهې تړل شوي وو، د رأيې اچوونې ۲۰۵ مرکزونه د امنيتي انديښنو له کبله بند پاتې شول.

په هغه سيمو کې چې په ټاکنو کې د خلکو ګډون محدود وو، ترهګريز فعاليتونه د دې لامل شوو چې خلک رأيه و نه کاروي- خو د تيرو ټاکنو پرتله د خلکو د پام وړ ګډون هغه افراطي هڅې ناکامه کړلې چې غوښتل يې دا ټاکنې ګډوډې کړي.

رأيه اچوونکو په رأيه پاڼو د غوراوي پراخ چانس درلود. لکه څرنګه چې په لمړيو کې د ولسمشريزو ټاکنو په رأيه پاڼه کې ۱۱ تنه نوماندان وو، خو ۳ تنو له ټاکنو دمخه انصراف وکړو. د ولسمشرۍ په پاتې ټيکټونو کې پراخو ليدلورو او قومي استازيتوب شامل وو، او دوو ټيکټونو ښځينه مرستيالانې لرلې. په ولايتی کچه ۲۵۹۵ نوماندانو د ۳۴ ولايتونو په کچه د ۴۵۸ کرسيو لپاره سيالي وکړه. د ټاکنو ترمخه د زياتيدونکو ګواښونو سربيره، مطرحو نوماندانو پياوړي کمپاينونه په لاره واچول، او ځينې وختونه يې خپلو غونډو ته زيات شمېر خلک راوبلل. د ولسمشريزو ټاکنو د نوماندانو تلويزوني مناظرې د هيواد په ګوټ ګوټ کې وليدل شوې چې د نوماندانو او دهغوی د تګلارو سره يې د خلکو ليوالتيا زياتوله.

که څه هم د تیرو ټاکنو په پرتله ځینې پرمختګونه شوي دي - لکه باکیفیته نه پاکیدونکی رنګ، د رأیو پاڼو او د هغو د بنډلونو لپاره د ځانګړې پرلپسې شمیرې کارول او د پایلو په پاڼو باندې د لاسوهنې د معلوماتو د ځانګړې تسمې کارول - خو بیاهم ډېره له وخته مخکې ده ترڅو د درغلۍ ضد دې تدابیرو د اغېزې اندازه وټاکل شي او د ټاکنو د لړۍ په اړه وروستی تحلیل وشي. د رأیو شمېرنه اوس هم دوام لري. د درغلیو ادعاوې د ځینو نوماندانو لخوا شوې دي او د ټاکنو د ورځې اړوند ۱۲۶۸ شکایتونه د ټاکنو د مسؤولینو سره ثبت شوي دي.

.

لکه څنګه چې کېدای شي د نوماندانو ترمنځ د رأیو توپیر لږ وي، نو له دې امله کم شمېر رأیې کولای شي د ولسمشریزو او ولایتی شوراګانو د نوماندانو په سیالی باندې اغېزه وکړي. څارونکي باید د رأیو شمېرنه او د شکایتونو لړۍ له نږدې وڅاري ترڅو د ټاکنیزې لړۍ د روښتیا سره مرسته وکړي. یواځې د ټاکنیزو بنسټونو د فعالیتونو د بشپړیدو وروسته، وروستۍ ارزونه ترسره کیدای شي. بلاخره دا به افغانان وي چې د دې ټاکنو اعتبار به وټاکي.

د نړۍ په ډېرو هېوادونو کې چیرته چې تاوتریخوالي د ټاکنو روښتیا تر پوښتنې لاندې راوستلې، نو د داسې تاوتریخوالي سرچینه ډېری وخت په خپله سیالي کوونکې ډلې وي. که څه هم د افغانستان په قضیه کې د ټاکنیزو مسؤولینو سره سیالي کوونکي هم د دې تاوتریخوالي قربانیان وو. مرتکبین غیر دولتي کسان وو چې په هیواد کې د ټاکنو او ډیموکراټیک پرمختګونو پر وړاندې خنډونه وو. دا ډول موارد یواځې په افغانستان پورې منحصر نه دي. د پاکستان د ۲۰۱۳ کال په ټاکنو کې، د لیبیا او یمن د ۲۰۱۲کال په ټاکنو کې، د کانګو د جمهوریت د ۲۰۱۱ کال په ټاکنو کې په ځینو سیمو کې د رأیې ورکوونې پر وړاندې خنډونه رامنځته شوي وو چې په ترڅ کې یې خلک او نوماندان یوشان افراطیانو لخوا د دې تاوتریخوالي ښکار شوي وو. په افغانستان کې هم د نورو ټولو هیوادونو په څیر خلکو د دې ګواښونو پر وړاندې مقابله وکړه او د ټاکنو په لړۍ کې یې برخه واخیستله.

## کتنې او موندنې

### امنیت او ټاکنیز تاوتریخوالی

د ټاکنو په ورځ، د ملي ډیموکراټیک انسټیټیوټ د کتونکو او کورنیو څارونکو ډلو دې ته پام شو چې د امنیت اړوند پیښو رایه ورکوونه د هېواد په بیلابیلو برخو کې اغېزمنه کړه. که څه هم، د ۲۰۰۹ او ۲۰۱۰ کال پرتله، پیښې لږې وې، او ډېری دا پیښې د دې پر ځای چې په سویلي سیمو کې کوم چې په تیرو ټاکنو کې د تاوتریخوالي له امله له ناکرارۍ سره مخ وي، ولیدل شي، په شمالي، ختیځو او لویدیځو سیمو کې رامنځته شوې. د ټاکنو د ګډوډولو او د خلکو د ګډون د لمنځه وړلو لپاره د افراطي ډلو د جدي هڅو سره سره هم، ټولو د هیواد په ټولو برخو کې په ټاکنو کې د خلکو د پام وړ ګډون ولید.
امنیت د افغانستان د ټاکنو د لړۍ په هره برخه اغېزه کوي. لکه څنګه چې په تیرو ټاکنو کې تاوتریخوالي د کمپاین په دورې باندې اغېزه وکړه او ترهګرو ډلو د

بیلابیلو حملو په ترڅ کې نوماندان، ټاکنیز کارکوونکي، امنیتي مسؤولین، ژورنالستان (خبریالان) او کتوونکي په نښه کړل. ډیریو نوماندانو شکایت وکړ چې د هېواد په ګوټ ګوټ کې په آزاده توګه د هغوی د کمپاین کولو وړتیا د امنیت د نشتوالي له کبله محدوده شوې وه. نوماندان او د هغوی د کمپاین کارکوونکو ته ګواښ وشو، وتښتول شول، ووژل شول او د کمپاین په دفترونو یې حملې وشوې. د عبدالله عبدالله، اشرف غني احمدزي، عبدالرسول سیاف او ګل آغا شیرزي په ګډون د ولسمشریزو ټاکنو د یو شمیر نوماندانو کمپاینونه له تاوتریخوالي سره مخ شول.

د ټاکنو مسؤولینو رپوټ ورکړ چې ۲۰۱۳کال د جون له ۷ نیټې څخه د ۲۰۱۴کال د اپریل تر ۳ نیټې پورې یې، د مستقیمو حملو، مستقیم ګواښ او بیروونې په ګډون د ټاکنیزو کارکوونکو پرخلاف ۱۶۰ پیښې ثبت کړي دي. د هېواد په کچه، د امنیت اړوند په لوړه کچه د پیښو په اړه د هرات ولایت څخه رپوټونه ترلاسه شوي وو. له ټاکنو یوه اونۍ مخکې، په ۲۵ ولایتونو کې د رایې ورکوونې د مرکزونو او ټاکنیزو فعالینو پرخلاف د بیلابیلو سرچینو لخوا ۱۱۶ ګواښونه ثبت شوي وو. په دې پیښو کې د مارچ په ۲۵ نیټه د ټاکنو د کمېسیون په سیمه ایز دفتر برید چې له کبله یې د ولایتي شورا د ټاکنو یو نوماند، دوه ټاکنیز کارکوونکي او د پولیسو دو تنه افسران ووژل شول؛ او د ولایتي شورا د یو نوماند او نهه پلویانو تښتول او وژل هم شامليږي. د مارچ په ۲۹ نیټې، په کابل کې د ټاکنو د خپلواک کمېسیون په مرکزي دفتر پیچلې حمله وشوه، که څه هم په کې د کمېسیون هیڅ یو کارکوونکی ونه وژل شو، خو د هېواد په مرکز کې د ټاکنیز نظام په اداري ۵ ساعته وسلوالې جګړې د بریالی حملې سمبولیکه بڼه لرله.

د ولسوالیو یو شمیر ټاکنیز مسؤولینو د ګواښونو د ترلاسه کولو وروسته له خپلو دندو استعفا ورکړه او د ټاکنو خپلواک کمېسیون دا څرګنده کړله چې په ناامنه سیمو کې د کارکوونکو او په ځانګړي توګه دښځینه کارکوونکو د ګومارلو په برخه کې له ننګونو سره مخ وو. د ټاکنو د خپلواک کمېسیون مسئولینو ځینو سیمو ته د لاسرسي په برخه کې دستونزو په اړه رپوټ ورکړ او د رای ورکوونې ۱۰ سلنه مرکزونه د لوړو امنیتي ګواښونو له کبله، له لومړنۍ نوملړ څخه لرې کړل شول. د ټاکنو خپلواک کمېسیون همداشان رپوټ ورکړ چې افراطي ډلو په یو شمېر ولایتونو کې د 'شب نامو' په کارولو خلکو ته اخطار ورکړی چې په ټاکنو کې ګډون و نه کړي.

هغه افغان خبریالان چې له سیمه ایزو رسنیو سره کار کوي، له ځورونې سره مخ شوي، او لږ تر لږه په دوو قضیو کې پرې حمله شوې وي. ۳ خبریالان چې د نړیوالو رسنیو سره کار کاوه، د ټاکنو له ورځې مخکې پړاوو کې ووژل شول. د مارچ په ۱۱ نیټه یو بهرنۍ خبریال چې د سویډنې راډیو لپاره یې کار کوو په رڼا ورځ په کابل کې د ناپیژندو وسله والو لخوا په ډزو ووژل شوو. د مارچ په ۲۰ نیټه یو افغان خبریال چې د فرانس پرس خبري له آژانس سره یې کار کوو، د خپلې ښځې او دوو ماشومانو سره د کابل سرینا پر هوټل د برید پر مهال ووژل شوو، او یو زوی یې په وخیم حالت کې پاتې شو. د اسوشیټډ پرس یوه تصویر اخیستونکې هغه مهال ووژل شوه چې د دولتي کاروان سره یې یوځای د خوست ولایت یوې ولسوالۍ ته د ټاکنیزو توکو د لیږد لپاره سفر کاوه.

**<u>نوماندان اوکمپاین (ټاکنیزې سیالی)</u>**

د ۲۰۱۳کال د سپټامبر له ۱۶ نیټې څخه د اکتوبر تر ۱۶نیټې پورې، د ولسمشریزو ټیکټونو لپاره ټول ټال ۲۷ او د ولایتي شوراګانو لپاره ټول ټال ۳،۰۵۶ نوماندانو نوم لیکنه وکړه. د غوښتنلیکونو له بیاکتنې وروسته، د ټاکنو خپلواک کمېسیون اعلان وکړ چې د ولسمشریزو ټاکنو لپاره ۱۰ او د ولایتي شوراګانو لپاره ۲،۶۷۷نوماندان په لومړنۍ نوملړ کې شامل شول. د اعتراضونو له څېړلو وروسته، کمېسیون د ولسمشریزو ټاکنو۱۱ نوماندان او د ولایتي شوراګانو ۲،۷۱۳نوماندان په ټاکنو کې د سیالي کولو لپاره تائید کړل. د روښتیا د نشتوالي له کبله، په لړۍ باندې نیوکې وشوې، ځکه چې نوماندانو ته په انفرادي توګه د د هغوی د لرې کېدو لاملونه په ډاګه شوي نه وو.
حتی د نوماندانو د وروستي نوملړ له خپرېدو وروسته هم، د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمېسیون د نوماندانو پر شرایطو باندې د ورتیا یا برابروالي په اړه بیاکتنې ته دوام ورکړ، په داسې حال کې چې د ولسمشریزو ټاکنو ۳ نوماندان له خپلې نوماندۍ تیر شول. دا چې رایې پاڼې چاپ شوې وې، نو په دې اړه اندېښنو شتون درلود چې رایه ورکوونکي به د هغه نوماندانو په اړه چې لا تر اوسه هم ټاکنو ته ولاړ وو، او هغه نوماندان چې تیر شوي وو یا لرې کړل شوي وو خبر نه وي. دې مسئلې د هوارۍ لپاره د ټاکنو خپلواک کمېسیون اعلان وکړ چې دمخه چاپ شوي وروستي نوملړ تر څنګ به د هغه نوماندانو نوملړ کړي کوم چې لرې کړل شوي او یا په رسمي توګه تیرشوي دي. له ټاکنو دوه ورځې مخکې، د ټاکنو خپلواک کمېسیون دا څرګنده کړه چې د ولسمشریزو ټاکنو ۸ نوماندان (ټول نارینه) او د ولایتي شوراګانو ۲،۵۹۵ نوماندان (د ۲۹۹ ښځو په ګډون) لا تر اوسه هم د ټاکنو لپاره ولاړول.

د ولسمشریزو ټاکنو لپاره رسمي کمپاین د فبروري په ۲ نیټه، او د ولایتي شوراګانو لپاره کمپاینونه د مارچ په ۵ نیټه پیل شول. په قانوني توګه د کمپاین ټول فعالیتونه باید د رایه ورکوونې له پیل څخه ۴۸ ساعته مخکې بند شي.

البته نوماندانو او سیاسي ګوندونو په پراخه توګه د قومونو او ټولنو د ملاتړ د ترلاسه کولو ادعاوې کولې، نوماندانو اساساً په هغو پیغامونو تمرکز کوو چې د قومیت پرته د افغانانو اندېښنې یې منعکس کولې. دا خط مشې د ټلویزیوني مناظرو په ګډون له بیلابیلو لارو تبلیغ کېدلې.

د امنیتي اندېښنو او د کمپاین په دفترونو او کارکوونکو د مستقیمو بریدونو سربیره، د ولسمشریزو ټاکنو ګڼ شمېر نوماندانو د هېواد په کچه د کمپاین لویې غونډې په لاره واچولې. دا چې ځینې ولسوالی ناامنه بلل کیدې، نو ځکه دا فعالیتونه اکثراً د ولایتونو تر مرکزونو پورې محدود وو. د پیغام د لیږدولو لپاره د کمپاین کولو په نورو طریقو کې د بیل بورډ او پوسترونو په څیر د دودیزو او ټولنیزو رسنیو څخه کار اخیستل، او دقومي او مذهبي مشرانو او سیمه ایزو مخورو کسانو سره د هغوی د ملاتړ د ترلاسه کولو لپاره د هغوی سره خبرې اترې شاملیږي.
.
دواړه د ولایتي شوراګانو او ولسمشریزو ټاکنو نوماندان اړ وو چې تر یوه حده پورې په کمپاینونو لګښت وکړي او ډیریو یې شکایت وکړ چې دا حد د تبلیغاتو په څیر د اړتیا وړ لګښتونو لپاره ډیر لږ دی. د ولسمشریزو ټاکنو د نوماندان لګښتونه ۱۰،۰۰۰،۰۰۰ افغانیو (۱۷۵،۰۰۰امریکایي ډالرو) ته محدود وو او د

ولایتي شوراګانو نوماندانو اجازه درلوده چې تر ۵۰۰،۰۰۰ افغانیو(تقریباً ۸،۷۰۰ امریکایي ډالرو) پورې لګښت وکړي. په پراخه توګه داسې خبرتیاوو شتون درلود چې نوماندان له دې حد څخه اوړي، خو د ټاکنو خپلواک کمېسیون او د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمېسیون تقریباًهیڅ داسې ورتیا نه درلوده چې د نوماندانو لخوا د دې قوانینو پلې کېدل وڅاري. د کمپاین د مودې په یوه نقطه کې، د ټاکنو خپلواک کمېسیون په مدني ټولنو او عام ولس غږ وکړ چې نوماندانو لخوا د حد څخه زیات لګښتونو په صورت کې دې ر ربوټ ورکړي.

**د ښځو ګډون**

په دې مهم سیاسي بهیر کې د تیرو ټاکنو پرتله په دې ټاکنو کې ښځو ډیر مهم رول ولوباوه. په داسې حال کې چې د ولسمشریزو ټاکنو لپاره هیڅ یوې ښځینه نوماندې شتون نه درلود، ښځې د ولسمشریزو ټاکنو د دریو نوماندانو ( د ۱۱ اصلي ټیکټونو له ډلې ) لخوا د مرستیالانو پُستونو ته غوره شوې وې. همدا شان، د ولسمشریزو ټاکنو نوماندانو د ښځو د حقونو په اړه خبرې وکړې، او دوو نوماندانو د ښځو د نړیوالې ورځې په اړه د خبرو په ترڅ کې په ځانګړي توګه د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي پر ضد د قانون د پلي کولو د اړتیا په اړه خبرې وکړې. د ولایتي شوراګانو نوماندو هم د افغانانو په ژوندانه کې د ښځو د ګډون په اړه مسئلې مطرح کړې.
.

په سیاسي لړۍ کې د فعال ګډون سربیره هم، ښځې د تبعیض، ګواښونو او د ځورونو زغملو ته دوام ورکوي او دا په ټاکنو کې د هغوی په ګډون اغېزه کوي. د ۲،۵۹۵ نوماندانو له ډلې چې د نوماندې په شرایطو برابر نه وو، یواځې ۱۲ سلنه یې ښځې وې. حال دا چې د هغو ښځو ټول ټال سلنه چې د ۲۰۱۴ کال د رایه ورکوونکو د نوم لیکنې په لړۍ کې برخه واخیستله ۳۴,۵ وه، دا چې د ښځو د رأیې ورکوونې کارتونه تصویر یا عکس ته اړتیا نه لري، نو ښځې په هویت کې د درغلیو له اړخه هم ډیرې زیانمنیدونکې دي. سربیره پر دې، په ۲۰۱۴ کال کې ولایتي شورا ته د ښځو لپاره د ځانګړو شویو کرسیو شمېر د ۲۵ سلنې څخه ۲۰ سلنې ته راټیټ شوو.

.
د ټاکنو خپلواک او د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمېسیونونه دواړه د هېواد په کچه خپلو موخو ته د رسیدو لپاره د ښځینه کارکوونکو د ګومارلو په برخه کې له ستونزو سره مخ وو. په ځانګړي توګه د ټاکنو خپلواک کمېسیون د کارکوونکو او پلټوونکو په توګه د ښځو د ګومارلو لپاره د پام وړ سرچینې ولګوې. د دې ننګونې لپاره ګڼ شمېر لاملونه وو، لکه د تعلیمیافته ښځو نشتوالي، د اړوندو وړ ښځو پر سر د سیاسي ګوندونو او مدني ټولنو د ډلو ترمنځ سیالي او د امنیتي ګواښونه.

د ټاکنیزو لایحو پر بنسټ، د ولایتي شوراګانو نوماندي باید لږ تر لږه د دولسم ټولګي په درجه زده کړې ولري. د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمېسیون د څرګندونې پر اساس، د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمېسیون د تحصیلي تصدیق پاڼو په اړه د خیړنې پر مهال د نوماندو د وړتیا د تثبیتولو په موخه د سواد آزموینه په لاره واچوله. په داسې حال کې چې څومره ښځې د تحصیلي سابقې له کبله سلب صلاحیت شوې دي، څرګنده نه ده، ډیریو په دې شرط باندې د پام وړ شمېر احتمالي ښځینه نوماندو د ګوښه کولو د

وسیلې په توګه، نیوکه وکړه، دا ځکه چې د نارینه وو په پرتله ښځو تعلیم ته لږ لاسرسی درلود.

د کمپاین د مودې پر مهال، د تاوتریخوالي ګواښونو او بیروني پر ښځینه نوماندانو او د هغوی د کمپاین کولو په فعالیتونو اغېزه وکړه. بېلابېلو ښځینه نوماندانو د لاسوهنې او بیروني د پېښو په اړه خبرداری ورکړ. پېښې له لفظي ګواښ څخه نیولې د کمپاین د پوسترونو د څیرې کولو، وهلو او ټکولو تر ګواښونو پورې وې. امنیتي وضعیت د دې لامل شو ترڅو ډېری ښځینه نوماندانې د خپل د کمپاین فعالیتونه را کم کړي.

کورنیو څارونکو او د ملي ډموکراټیک انستیټیوټ NDI کتونکو د ټاکنو په ورځ د هېواد په بېلابېلو برخو کې په لوړه کچه د ښځو ګډون ملاحظه کړ. د رایې ورکوونې د ورځې په پای کې، د ټاکنو خپلواک کمېسیون مطبوعاتي کنفرانس په لاره واچوو او په ټاکنو کې یې په تخمیني ډول د ۷ ملیونو رایه ورکوونکو د ګډون په اړه خبر ورکړ چې له هغې ډلې ۳۵ سلنه یې ښځینه رایه ورکوونکې وې.

## په ټاکنو کې د ځوانانو ګډون

د ملي ډموکراټیک انستیټیوټ(NDI) کتونکو په ګوته کړه چې ځوانان د ټاکنو مخکې پړاو کې او همدارنګه د ټاکنو په ورځ فعال وو. که څه هم د ټاکنو خپلواک کمېسیون د ځوانو رایه ورکوونکو او د هغه رایه ورکوونکو د شمېر په اړه یې معلومات نه دي اعلان کړي کوم چې نوې نوم لیکنه یې کړې ده، خو داسې رپوټ یې ورکړی چې د دې کال د ولایتي شوراګانو ۷۰ سلنه نوماندان د ۲۵ او ۳۵ کلونو ترمنځ عمر لري. دا کار دا په داسې یوه هېواد کې چیرته چې فرهنګي ارزښتونه سیاسي قدرت ته د رسېدو لپاره عمر لومړی شرط بولي، د یوې لویې لاسته راوړنې ښکارندويي کوي. ډېری هغه ځوان نوماندان چې د ولایتي شوراګانو لپاره سیالي کوي، خپل ځانونه د هیڅ یوې سیاسي ډلې یا تلن لارې پلویان نه بولي بلکې له ځوان سیاستوالو سره د اوسنیو سیاسي نخبه ګانو په بدلولو ټینګار کوي.

له پخوا هر وخت څخه ډېر، ځوانان په ځانګړي توګه د ټولنیزو رسنیو له لورې په ټاکنیزو بحثونو کې ډېر فعال وو. په عمومي توګه، د ټاکنو په اړه د هغوی لید مثبت وو او ګڼ شمېر یې په ټاکنو کې برخه واخیستله. د ولسمشریزو ټاکنو د ځینې نوماندانو خط مشیو د هغه مسئلو په اړه خبرې کولې چې د ځوانانو لخوا په ګوته شوې وې او په ځانګړي توګه د هغوی لپاره مهمې وې، لکه کارموندنه او تعلیم. د کمپاین پر مهال، دې نوماندو په پریکړه کولو او تلن لارې جوړولو کې د ځوانانو د پراخ ګډون په اړه ژمنې وکړې. د ولسمشریزو او ولایتي شوراګانو نوماندان په دې پوه شول چې په دې ټاکنو کې ځوانان پریکنده لوبغاړي دي.

په ټاکنیزه لړۍ کې د ګډون لپاره په اغیزناکه توګه د ټکنالوژی په کارولو کې ځوانان مخکښ څرګند شول. ځوانانو ډېر فرصتونه لرل چې شبکې جوړې کړي او په دې ټاکنو کې په سیاسي توګه د ټولنیزو رسنیو، انټرنیټ ته د لاسرسي او اس ام اس له لارې ښکیل شي. د تیرو ټاکنو په پرتله، د پرلیکه ټولنیزو رسنیو شبکو په کارولو کې د پام وړ زیاتوالی ترسترګو شوی، په ځانګړي توګه

د ښاري ځوانانو ترمنځ کوم چې خط مشی/تلن لارې جوړونې پرلیکه ( آنلاین) بحثونو کې ګډون کوي او د افغانستان په ټاکنو کې د خپل غږ په لټه کې دي.

د ټاکنو په ورځ، د ملي ډیموکراټیک انسټیټیوټ (NDI) کتونکو د هېواد په کچه دا ملاحظه کړله چې څرنګه ځوانان د ساعتونو لپاره د رأیې ورکوونې په مرکزونو کې په قطارونو کې ولاړ وو ترڅو خپله رایه واچوي. په همدې توګه یې زیات شمیر ځونان ملاحظه کړل چې د ټاکنیزو کارکوونکو، د نوماندو د څاروونکو او کورنیو څاروونکو په توګه یې خدمت کاوه.

## کتوونکي

د ۲۰۱۴ کال له ټاکنو مخکې، ټاکنیزو او امنیتي چارواکو د درغلیو په کتنه، مخنیوي او رپوټ ورکولو کې د ښې پرې څارونکو اهمیت څلانده کړ.

د ۲۰۰۹ کال په پرتله، د درې چندو څخه ډیر شمېر کورنیو څارونکو ډلو د ټاکنو خپلواک کمېسیون ته د باورلیک د ترلاسه کولو لپاره خپل غوښتنلیکونه وسپارل. د ۲۰۰۹کال په ټاکنو کې، د ټاکنو خپلواک کمېسیون د کتونکو ۲۱ ډلو او ۹،۲۲۸ کورنیو کتونکو ته باورلیکونه ورکړل. په ۲۰۱۴ کال، د ټاکنو خپلواک کمیسیون د ټاکنو د څارنې ۶۷ کورنیو ډلو ته باورلیک ورکړ او ۱۱،۳۵۷(له دې شمیر څخه ۳،۵۲۸ یې ښځو ته ورکړل شول) باورلیکونه یې ووېشل. دا په ټولو ۳۴ ولایتونو کې پوښښ په ګوته کوي؛ په تیره بیا، د فراه او پکتیکا په ولایتونو کې هیڅ یوې ښځې ته د باورلیک ورکړل شوی نه وو.

.

په هغه سترو څارونکو ډلو کې چې د ټاکنو په دې پروسه کې فعال وې، د افغانستان د آزادو او عادلانه بنسټ(FEFA)، د افغانستان د رڼو ټاکنو بنسټ(TEFA)، د افغانستان د ځوانانو د ملي او ټولنیز ګډون مؤسسه(AYNSO)، د افغانستان د ملي ګډون مؤسسه(ANPO).، د خط نو مؤسسه(NLO) شاملیږي. د ټاکنو له ورځې مخکې، دې مؤسسو د ګومارنې پلانونه سرهمغږي کړل ترڅو ټول هېواد ترپوښښ لاندې راوستلای شي. د اپریل په ۳ نیټه، پنځه واړو مؤسسو د ۲۰۱۴ کال له ملي ټاکنو څخه د کتنې د ګډو اصولو اعلامیه لاسلیک کړله چې په کې د همکاری او همغږی د لوړوالي مکانیزمونه شاملیږي. په ځانګړي توګه، دا اعلامیه په ځانګړې توګه د ټاکنو د څارنې لپاره د نړیوالو معیارونو د رعایتولو، د ټاکنیزو مسئولینو او نورو ښکیل اړخونو سره همغږي او اړیکې د پیاوړتیا او د ټاکنو په قانون کې د ګټورو بدلونونو د راوستلو لپاره د ډله ایزو هڅو په غوښتنه کوي. د داسې اعلامیې لاسلیک کول په افغانستان کې ښې سارې بلل کیږي.

د اپریل په ۵ نیټه، د بېلابېلو امنیتي پېښو سره سره، کتوونکي له پلان سره سم وګومارل شول او کتنه یې ترسره کړه، دې پنځو مؤسسو په ګډه سره د ۱۰،۰۰۰ څخه زیات کتوونکي وګومارل او ټول ۳۴ ولایتونه یې تر پوښښ لاندې راوستل.

.

د AYNSO ,ANPO او NLO مؤسسو د ټاکنو په ورځ د يوه ګډ ټيلفوني مرکز له لارې فعاليت کاوه او ګډو بيانيو د خپرولو لپاره يې يو له بل سره همغږي کوله. تيفا (TEFA) هم د ټاکنو د ورځې په بهير کې بيانيې خپرې کړلې. په همدې توګه د FEFA له استازو سره د رسنيو مرکو په ګڼ شمير ولايتونو کې د خلکو د پراخ ګډون او د رايې ورکوونې د ساعتونو د تمديدولو په اړه رپوټونه وړاندې کړل. همدا شان، دې مؤسسو د هېواد په ځينې برخو کې د ناامنۍ اړوند پيښو، د رايې ورکوونې د ځينې مرکزونو د بند پاتې کيدو، د راپاڼو د کموالي، د بيروني د پيښو او ټاکنيزو بې نظميو په اړه خرګندونې وکړې او په ځينې مرکزونو کې د رأيې ورکوونې د پيل پر مهال د څارنې په موخه د کورنيو کتونکو د مخنيوي په اړه يې رپوټونه ورکړل.

د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمېسيون (AIHRC) په ۳۰ ولايتونو کې ۳۲۷ کتوونکي وګومارل. د دې او د هيواد په کچه لويو هڅو سربېره، په ولايتونو کې نورې ميشتې مؤسسې هم وې چې د ټاکنو په ورځ يې د رايې ورکوونې له مرکزونو څخه کتنه وکړه.

د ټاکنو خپلواک کمېسيون ۱۷ نړيوالې کتونکې ډلې معتبرې وبللې او ۴۱۷ باورليکونه يې ووېشل (۱۱۱ يې نړيوالو نښځينه کتونکو ته وويشل شول). په دې ډلو کې، اوږدمهاله او د ټاکنو د ورځې کتونکې همدا شان په افغانستان کې د شته ډيپلوماتيکې ټولنې غړي شامل وو. د ملي ډموکراټيک انسټيټيوټ (NDI) سربيره، د آزادو ټاکنو لپاره آسيايي شبکې(ANFREL)، ډموکراسي انټرنيشنل مؤسسې(DI)، اروپايي ټولنې، او په اروپا کې د امنيت او همکارۍ سازمان(OSCE) هم د ټاکنو ارزونه وکړه او د کتنې ماموريتونه يې په لاره واچول. دې ټولو مؤسسو وروسته له هغه خپل ګومارنه تجديد کړه کله چې تاوتريخجنو بريدونو د ټاکنو له ورځې مخکې کابل او نور ولايتونه ولړزول.

د ټاکنو خپلواک کمېسيون د ولسمشريزو ټاکنو د نوماندانو ۸۰،۶۴۵ څارونکو؛ او د ولايتي شوراګانو د نوماندانو ۷۴۰،۲۴۶ څارونکو او دسياسي ګوندونو ۱۸،۳۳۰ څارونکو ته باورليکونه ورکړل. د ملي ډموکراټيک انسټيټوټ (NDI) او کورنيو کتونکو ډلو د ټاکنو په ورځ د ټول هيواد په کچه د رايې ورکوونې په ډيريو مرکزونو کې د نوماندانو د څارونکو شتون ملاحظه کړ.

## رسنۍ

د ټاکنو د خپلواک کمېسيون په وينا، د ۷۱ کورنيو او ۴۵ نړيوالو رسنيو استازو ته د باور ليکونه ورکړل شوي وو ترڅو ټاکنې تر پوښښ لاندې راولي. ټول ټال، رسنيو د ټاکنيزو سياليو د ټولې مودې پر مهال او د ټاکنو پر ورځ رغنده رول ولوباوه.
د تېرو ټاکنو پرخلاف، د دې ټاکنو د ټاکنيزو سياليو په موده کې ټولنيزې رسنۍ په پراخه ډول سره وکارول شوې او ډيرى نوماندانو په فعاله ډول سره د دې ټولنيزو رسنيو لکه فيسبوک اوټويټر څخه کار اخيسته. نوماندانو د خپلو پيغامونو د خپرولو او د ټاکنيزو سياليو د پروګرامونو د تنظيم په موخه ټولنيزې رسنۍ کارولې، چې دې کار وکولای شواى په افغانستان کې د سياسي سياليو ماهيت يا څرنګوالى د بدلون په برخه کې مرسته وکړي. دې ټکي ته په پام چې افغانان د احتمالي ګټونکو د شخصي ژوندانه په اړه د مالوماتو په لټه کې

او دا یوه داسې موضوع ده چې سنتي رسنۍ په بشپړه توګه ورڅخه ډډه کوي، نو رأیه اچوونکو هم ټولنیزې رسنۍ کارولې ترڅو دوی خپله له نوماندانو سره بحث وکړي. په بې ساري توګه د ټولنیزو رسنیو کارونه آن تردې په دې اړه هم بحث تود کړی وه چې څرنګه باید اړوندې رسنۍ پر نوماندانو باندې د شخصي بریدونو لپاره تنظیم او وکارول شي.

سره له دې چې د ټاکنیزو سیالیو په بهیر کې په پراخه توګه د سکوت د دورې د مقرراتو د مراعاتولو غوښتنه شوې وه چې نوماندان باید خپلې سیالۍ د رایه اچوونې د پیل څخه ۴۸ ساعته دمخه په ټپه ودروي، خو بیا هم د ټاکنو دمخه او د ټاکنو په ورځ د ناقانونه سیالیو (کمپاین) کولو ځینې رپوټونو شتون درلود. د اپریل میاشتې په خلورمه نېټه د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمېسیون رپوټ ورکړ چې د ځانګړو نوماندانو لخوا رایه اچوونکو ته د مبایل لیکلي پیغامونه د دوی د هڅولو په موخه استول شوي وو او رایه اچوونکو څخه غوښتل شوي وو ترڅو په ټاکنو کې له دوی څخه ملاتړ وکړي. د ټاکنو په ورځ، ځینې تلویزوني شبکو، د خورشید او (۱) تلویزوني شبکو په ګډون، ولسمشریزو نوماندانو سره مرکې خپرولې، پداسې حال کې چې پدې موده کې د نوماندانو مرکې په ښکاره ډول بند دي.

د اپریل د ۴مې نېټې د شپې ۱۱ بجو څخه د اپریل ۵ مې نېټې د مازدیګر تر ۴بجو پورې د مبایل له لارې لیکلي پیغامونه په ټول هیواد کې بند وو. د رسنیو د رپوټونو په حواله، د افغانستان د مخابراتي ښار د چارواکو لخوا دا بندیز هغه مهال رامنځته شوو چې د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمېسیون د ولسمشریزو ټاکنو د هغه نوماند په اړه چې د سکوت د دورې پر مهال یې د مبایل له لارې رایه اچوونکو ته پیغامونه استولي وو، شکایت وکړ. په هر حال، د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمېسیون سمدستې د مبایل د لیکلي پیغامونو بندول رد کړل او د دې خدماتو وړاندې کوونکو شبکو ته یې امر وکړ چې بیرته خپل عادي حالت ته را وګرځي. ځینو هم دا فکر درلود چې کېدای شي دا بندیز د دې لپاره وو چې له طالبانو مخنیوی وکړي ترڅو د رأیه اچوونکي په زړونو کې ویره رامنځته نه کړي او یا د پیغامونو د لیږلو په واسطه په ټاکنو کې خنډ ګډوډي را منځته نه کړي. پر ټاکنو کتونکو ډلو غبرګ پورته کړ او د دې بندیز په اړه یې اندیښنه وښوده او دا یې په ګوته کړه چې دې بندیز د دوی کار د ټاکنو پر ورځ لا ګران کړ. د ملي ډموکراټیک انسټیټیوټ کتونکو رپوټ ورکړ چې په ټوله ورځ کې هغوی د لیکلي پیغامونو پر ځای د غږیزو تیلفونونو څخه یو له بله سره د اړیکه نیولو لپاره کار اخیستی دی.

د رسنیو پوښښ د ټاکنو د ورځې په اړه په پراخه پیمانه مثبت وو، ډیریو دا ټکی یادولو چې د د رأیه اچوونکو شتون له هغه څه څخه چې تمه یې کېده هم اوچت وه او پر رأیه اچوونکو او د رأیه اچوونې پر ځایونو کوم لوی برید شتون نه درلود. د ټولنیزو رسنیو کارول د ټاکنو د مخکې دورې څخه لا هم ډیر پراخ وو. ټول ټال، د خلکو غبرګون په ټولنیزو رسنیو کې مثبت وو او پکې د افغانانو لخوا هغه پوستونه چې په ترڅ کې یې هغوی خپل احساسات د دې تاریخي ټاکنو پا اړه څرګندول او په ویاړ یې خپلې رنګ شوې ګوتې ښکاره کولې، لیدل کېدل. په هر حال، ډیریو افغانانو بیا هم د هغه مسئلو په اړه خپله اندیښنه څرګندوله چې د دوی پر رأیه یې اغیزه درلوده، لکه د رأیه اچوونې د مرکزونو نا وخته پرانیستل، د رأیه پاڼو د لږ والي او امنیتي ګواښونو په ګډون ځینې نورې مسئلې.

ټولنيزې رسنۍ د ټاکنيزو درغليو په اړه د معلوماتو د خپور لپاره کارول کيدلې، د بيلګې په توګه په يوه قضيه کې د کورنيو چارو وزارت د بې بې سي خپرونې شبکې له يوه خبريال سره چې ويلي وو چې د رأيه اچوونکو د درغليو په اړه معلومات لري، يو له بله سره معلومات شريک کړل.

لکه څنګه چې مخکې يادونه وشوه، د ټاکنو په درشل اونيو کې امنيتي ننګوونې د خبريالانو لپاره جدي انديښنې بللې کېدې او د يو شمېر خبريالانو وژنو ته په بېلابېلو پيښو کې ګوته نيول کېده . مګر د ټاکنو په ورځ د مطبوعاتو غړو په پراخ ډول پرته له کوم ګواښ څخه خپله دنده تر سره کړه. په استثنايي مواردو کې هم د نسيم راډيوي شبکې خبريال وه چې د دايکندي په ولايت کې د ټاکنو د خپلواک کمېسيون له چارواکو سره له مخامخ کېدو وروسته وربانده برېد وشو او د رأيه اچوونې له مرکز څخه بهر کړل شو، همدارنګه دوه نور خبريالان د ننګرهار په ولايت کې د افغان ملي اردو سرتيرو له خوا د لنډې مودې لپاره تر توقيف لاندې ونيول شول.

د ټاکنو دخپلواک کمېسيون د رسنيو کمېسيون له يوې اداري سره قرارداد کړی چې د ټاکنو په بهير کې د رسنيو د څارنې دنده په غاړه واخلي او په اړه يې معلومات برابر کړي؛ د دې څارنې د پايلو پر بنسټ، کمېسيون په دې باوري دی چې د ډېرو رسنيو پوښښ" انډوليز" وه. که څه هم د ټاکنو له ورځې دمخه، دې کمېسيون بېلابېلو رسنيو ته د ځينو نوماندانو په اړه د دوی پلويتوب په موخه اخطاريې ليږلې وې. دا رسنۍ عبارت دي له: د راه فردا راډيو - تلويزون شبکه، چې څښتن يې محمد محقق د عبدالله عبدالله په ټيکټ کې د ولسمشرۍ مرستيال دی؛ د آينه تلويزوني شبکه، چې څښتن يې جنرال دوستم د اشرف غني په ټيکټ کې د ولسمشرۍ مرستيال دی او د دعوت تلويزوني شبکه چې څښتن يې عبدالرب رسول سياف د ولسمشرۍ نوماند دی. نوموړي کمېسيون څرګنده کړه چې د افغانستان راډيو تلويزون(RTA) د ۲۰۱۴ ټاکنې په سم او متوازن ډول تر پوښښ لاندې ونيولې. په ۲۰۰۹ کال کې، د افغانستان راډيو تلويزون(RTA) د برحال ولسمشر حامد کرزي د ټاکنيزو سياليو څخه په پلوۍ تورن شوی وه.

## قانوني چوکاټ او د ټاکنو اداره

### قانوني چوکاټ

هغه قانوني چوکاټ چې د افغانستان پر ټاکنو حاکم دي عبارت دي له: د هېواد اساسي قانون، په ۲۰۱۳ کال کې تصويب شوی د ټاکنو قانون، په ۲۰۱۳ کال تصويب شوی د ټاکنو د خپلواک کمېسيون او د ټاکنيزو شکايتونو د جوړښت او واکونو قانون، په ۲۰۰۹ کال کې تصويب شوی د سياسي ګوندونو قانون، د ټاکنو د خپلواک کمېسيون قوانين او مقررات، د امنيتي قواوو او دولتي چارواکو د چال چلند په اړه د ولسمشر فرمانونه.
د افغانستان د اساسي قانون ۶۱مه ماده په هرو پنځو کلونو کې يو ځل ولسمشريزې ټاکنې مني. له ټاکنو وروسته د ولسمشرۍ موده د پنځم کال د مې د مياشتې په ۲۲مه نيټه پای ته رسيږي، او د نوي ولسمشر د ټاکلو لپاره

ټاکنې باید د ۳۰ ځخه تر ۶۰ ورځو په بهیر کې د ولسمشرۍ د مودې له پای ته رسیدو دمخه ترسره شي. که چیرې هیڅ یو له نوماندانو ځخه ونه شي کولای ۵۰ سلنه اچوول شوي رأیې په لمړي دور کې تر لاسه کړي، نو دویم دوره ټاکنې باید د دوو اونیو په موده کې د ټاکنو د پایلو د اعلانولو ځخه وروسته ترسره شي. د هېواد اساسي قانون د دې موضوع په اړه چې که چیرې ټاکنې پر دې ټاکل شوي مودې ترسره نه شي څه نه دي ویلي.

د اساسي قانون ۱۳۸مه ماده د ولایتي شورا ګانو د غړو ټاکنې په هرو څلورو کلونو کې یو وار مني. د دې حکم په پام کې نیولو سره، د ولایتي شوراګانو ټاکنې باید په ۲۰۱۳ کال کې تر سره شوي وای. د ټاکنو خپلواک کمېسیون تیر کال دا ځرګنده کړه چې دا ټاکنې به د ولسمشریزې ټاکنو سره یو ځای د لوجستیکي او بودجوي ننګونو پر بنسټ په ۲۰۱۴ کال کې ترسره شي.

افغانستان د ولایتي شورا ګانو او ولسي جرګې ټاکنو لپاره د نه لیږد وړ یو ځل رأیې اچوونې سیستم کاروي، کوم سیستم چې هر رأیه اچوونکې د څوو ګونو نوماندانو لرونکې ټاکنیزه حوزه کې یواځې کولای شي یوه نوماند ته رأیه ورکړي. پداسې حال کې چې دا سیستم دا ګټه لري چې خپلواکه نوماندانو ته دا موقع برابروي چې په ټاکنو کې بریالیتوب ترلاسه کړي، خو له بلې خوا یو شمیر زیانونه هم لري: دا سیستم د ټاکنو د ګټلو لپاره ډېر ټیټ حد ټاکي (د ولایتي شوراګانو په ټاکنو کې یو نوماند کولای شي د یوې سلنې ځخه په لږو رأیو ګټونکی شي) او د سیاسي ګوندونو ګډون کمرنګی کوي.

دا سیستم په ټاکنیزو سیالیو کې د ډېرو نوماندانو د سیالۍ کولو سبب ګرځي – د بیلګې په توګه، د ۴۰۰ ځخه ډېرو نوماندانو د کابل په ولایت کې د ۳۳ څوکیو لپاره د ټاکنیزو سیالیو ډګر ته دانګلي دي. نوماندان د نورو نوماندانو سره د یو سلسله ستونزو سره د خپل ځان او خپل خط مشی د جلا کولو په موخه مخ دي، او رأیه اچوونکي ډېری وخت د نوماندانو په منځ کې د یو غوره نوماند د پیدا کولو لپاره د ستونزو سره مخ کیږي. په پایله کې، قومیت یا شخصي اړیکي د رأیه اچوونکو په خوښه غلبه کوي.

د افغانستان د تیرو ټاکنو د ټاکنیز چوکاټ پرخلاف، د ټاکنو نوی قانون او د ټاکنو د خپلواک کمېسیون/ د ټاکنیزو شکایتونو د خپلواک کمېسیون د جوړښت او واکونو قانون – چې د ۲۰۱۳ کال د جولای په میاشت کې نافذ شو – د دې پر ځای چې د ولسمشریز فرمان پواسطه صادر شي، د ملي شورا له خوا ترتیب شو. دا نوي قوانین د یوې اوږدې، پیچلې او په ورته وخت کې مشورتي لړۍ په پای کې چې سیاسي ګوندونو او مدني ټولنو په کې ونډه لرله، رامنځته شوي دي.

دا نوی قانون چې د ټاکنو د خپلواک کمېسیون او د ټاکنیزو شکایتونو د خپلواک کمېسیون جوړښت او صلاحیتونه تنظیموي، د ملي ډموکراټیک انسټیټیوټ او نورو کتونکو ډلو ځینې اندیښنې ته چې پخوا یې ځرګندې کړې دي، په پام کې نیولې دي. پداسې حال کې چې په پخوا به د ټاکنو خپلواک کمېسیون او د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمېسیون غړي په انتصابي ډول د ولسمشر لخوا ګومارل کیدل، خو دې نوي مکانیزم یوه مشورتي لړۍ رامنځته کړیده. یوه د غوراوي کمیټه (ډله) د ولسي جرګې او مشرانو جرګې، ستره محکمې، د بشري حقونو خپلواک کمېسیون او مدني ټولنو هغه ډلې چې په ټاکنو کې ښکیل دي د استازو په ګډون رامنځته کیږي او د نوماندانو لړلیک برابروي.

## د ټاکنو اداره

د ټاکنو خپلواک کمېسیون د نهه کمیشنرانو څخه جوړ شوی دی چې د ولسمشر لخوا د هغه ۲۷ نوماندانو د لړلیک څخه چې د غوراوي د کمېټې (ډلې) لخوا وړاندې کیږي، ټاکل کیږي. پداسې حال کې چې په تیرو کې د ټاکنو د خپلواک کمېسیون رئیس هم د ولسمشر لخوا ټاکل کېده، نوی قانون داسې څرګندوي چې د کمېسیون مشرتابه ډله (رئیس، مرستیال او منشی) د کمیشنرانو له ډلې وټاکل شي. د کمېسیون له غړو سربیره، د ټاکنو خپلواک کمېسیون له یوې دارلانشاء او ۳۴ ولایتي دفترونو څخه جوړ شوی دی.

د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام (UNDP) د راتلونکې لپاره د قانوني او ټاکنیزې وړتیا (ELECT II) د پروژې په مرسته، د ټاکنو خپلواک کمېسیون د ټاکنو لپاره د چمتووالي وړتیا وښودله. له وړاندې څخه ترتیب شوي عملیاتي پلان د ټاکنو خپلواک کمېسیون سره مرسته وکړه ترڅو په عمومي توګه خپلې دندې پر وخت او په مسلکي ډول تر سره کړي. له ټاکنو دمخه د کمېسیون فعالیتونه عبارت دي له: د ټاکنیزو موادو چمتووالی او ځای ته رسول؛ عامه پوهاوي او د مدني پوهاوي فعالیتونه؛ د ټاکنو د کارکوونکو ګومارل او روزل؛ د ټاکنیزو ښکیلو اړخونو سره همغږي؛ د رأیه اچوونکو نوم لیکنه؛ د رأیه اچوولو د مرکزونو رامنځته کول او د نوماندانو د ټاکنیزو سیالیو د بهیر د لګښتونو څارنه.

## د رأیه اچوونکو نوم لیکنه

د رأیه اچوونکو د نوم لیکنې لړۍ د ۲۰۱۳ کال د مې د میاشتې د ۲۶مې نیټې څخه د ۲۰۱۴ کال د اپریل د میاشتې تر ۱ نیټې پورې جریان درلود او نویو رأیه اچوونکو ته یې موقع برابروله چې نوم لیکنه وکړي. همدا شان دې بهیر هغه رأیه اچوونکو ته چې خپل د رأیه اچوونې کارتونه یې له لاسه ورکړي یا له یو ولایت څخه بل ولایت ته بې ځایه شوي، د نوي کارت د اخیستلو فرصت برابر کړ. د دې بهیر په پلي کېدو سره، د ټاکنو خپلواک کمېسیون څرګنده کړه چې ۳۸۰۸۵۵۶ د رأیه اچوونې نوي کارتونه ویشل شوي چې له دې ډلې ۱۳۲۰۰۳۰ یې ښځینه رأیه اچوونکو ته ورکړل شوي دي. سربیره پر دې، ۲۹۴۶۹ د رأیه اچوونې کارتونه کوچیانو ویشل شوي دي چې له دې ډلې ۸۱۳۰ یې ښځینه و ته وو. دا شمېره د طالبانو د د ورې څخه وروسته رأیه اچوونکو ته د ویشل شوو د رأیه اچوونې د کارتونو شمېر تقریباً ۲۱ میلیونو ته رسوي، پداسې حال کې چې په بشپړ ډول د رأیه اچوونکو د نوم لیکنې او داسې کوم میکانیزم چې یوه کس ته دوه ځلې د کارتونو ورکړه او یا د متوفی شخص کارت له منځه یوړل شي، شتون نه لري. پداسې حال کې چې په کره ډول احصائیوي معلومات هم نشته، د ټاکنو خپلواک کمېسیون داسې اټکل کړی چې په افغانستان کې تقریباً ۱۲ میلیونه په شرایطو وړ رأیه اچوونکو شتون لري.

ښځینه رأیه اچوونکي مجبور نه دي چې د نوم لیکنې پر مهال دې حتمي عکس واخلي چې دا کار نیابتي یا تش په نامه نوم لیکنه لوړوي. ترلاسه شوي ارقام داسې څرګندوي چې د هېواد په محافظه کارو سیمو کې د ښځو نوم لیکنه ډیره لوړه ده ( د مثال په ډول، په پکتیکا کې ۴۷ سلنه په کابل کې یواځې د ۳۳ سلنې پرتله)، داسې توپیرونه د ټاکنیزو درغلیو او د مقرراتو د نه مراعاتولو په اړه پوښتنې رامنځته کوي. سربیره پر دې، د څو ځلي نوم لیکنې

لپاره او همدارنګه د هغو رأیه اچوونکو لپاره چې پخوا یې د رأیه اچوونې څو کارټونه ترلاسه کړي دي، کوم د مخنیوي میکانیزم شتون نه لري.

**د رأیه اچوونې مرکزونه او محلونه**

د رأیه اچوونې هر محل داسې تنظیم شوی چې تر ۶۰۰ پورې رأیه اچوونکو ته ځواب ووایي، او د نارینه او ښځینه رأیه اچوونکو لپاره د بېلابېلو محلونو په ګډون، هر د رأیه اچوونې مرکز تر ۱۲ پورې د رأیه اچوونې محلونه لري.
د کورنیو چارو وزارت او د ټاکنو خپلواک کمېسیون د لمړنیو پلان کړل شوې ۷۱۶۸ رأیه اچوونې مرکزونو له ډلې، ۷۴۸ مرکزونه (یا د ۱۰ سلنه څخه څه د پاسه) له خطره ډک بللي وو. کله چې د په پام کې نیول شوېو رأیه اچوونې مرکزونو په اړه امنیتي ارزونه د کورنیو چارو د وزارت لخوا تر سره شوه، د ټاکنو خپلواک کمېسیون د رأیه اچوونې د محلونو وروستۍ لړلیک د فبروري میاشتې په ۱۸مه نیټه اعلان کړ، چې په کې ۶۷۷۵ د رأیه اچوونې مرکزونه یعنې ۲۱۶۶۳ د رأیه اچوونې محلونه شامل وو ( ۱۲۷۰۵ نارینه محلونه او ۸۹۵۸ ښځینه محلونه). د مارچ د میاشتې په ۳۰مه نیټه د ټاکنو خپلواک کمېسیون خلکو ته دا څرګنده کړه چې ۳۵۲ اضافي د رأیه اچوونې محلونه به د ټاکنو په ورځ د امنیتي اندیښنو له امله په ۱۸ ولایتونو کې پرانیستې نه وي چې په دې اعلان سره د رأیه اچوونې د فعالو مرکزونو شمېره ۶۴۲۳ مرکزونو یعنې ۲۰۷۵۲ محلونو ته ورسوله (۱۲۲۰۸ نارینه د رأیې اچوونې محلونه او ۸۵۴۴ ښځینه د رأیه اچوونې محلونه). تر ټولو ډېر اغېزمن شوي ولایتونه غزني (۶۰ مرکزونه) هرات (۳۱ مرکزونه) ننګرهار (۱۱۵ مرکزونه) او زابل (۳۲ مرکزونه) وو. یو شمېر نوماندانو په ناامنه او یا لرې پرتو سیمو کې د رأیې اچوونې د مرکزونو په اړ د ټاکنو د خپلواک کمېسیون په پرېکړې نیوکه کوله، هغوی داسې اندیښنه څرګنده کړه چې په دې سیمو کې به درغلیو مخه و نه نیول شي.

د ټاکنو په ورځ د وروستیو اټکل شویو ۶۴۲۳ مرکزونو څخه، ۲۰۵ مرکزونه د امنیتي دلیلونو له امله د پرانیستل کېدو وړ نه وو. پداسې حال کې چې دا مرکزونه د هېواد په بېلابېلو سیمو کې وو، ډېرې ترل شوي مرکزونه په هرات او ننګرهار ولایت کې تر ستزګو کېدل. ټول ټال، تقریباً ۱۳ سلنه د رأیه اچوونې مرکزونه چې د ۲۰۱۴ کال د ټاکنو لپاره په پام کې نیول شوي وو، د اپرېل میاشتې په ۵ مه نېټه ونه پرانیستل شول.